


**سپرغۍ {په بهر کښې د افغاني پوهېدونکو د عمومي اتحادیې خپرونه}**
**په اروپا کښې د افغاني پوهېدونکو (محصلینو) سیاسي غورځنګونو ته یو کتنه**
**او د پښتنو او بلڅو د ملي ازادۍ ټولنه ] برخه رااخستل شوې ده**
**نصیر ستوری - جرمني ، ویسلېنګ ښار 19.03.2025**

## په اروپا کې د افغاني پوهیدونکو ( محصلو ) سیاسي غورځنګونو ته یوه کتنه

په اروپا کې افغاني پوهیدونکي چه د افغاني ټولنې د روښنفکرانو یوه برخه جوړوي د خپلې ټولنې له سیاسي جریاناتو څخه بې اغیزې نه پاتې کیدای. څو څرنګه چه روښنفکران په ګډه توګه د یوې ټولنې اغیزمن په حیث په ټولنه کې ټاکلی سیاسي دریځ نلري او هم د خپلې ټولنې په بیلو بیلو طبقو او قشرونو پورې اړه لري نو سیاسي دریځ ئې هم یوازې د د فرد وو یکو د په نظر کې نیولو په اساس تر مطالعې او څیړنې لاندې نیول کیدای شي.

دې کې شک نشته چه په افغانستان کې سیاسي غورځنګونه سیا پخوانۍ ریښې لري څو د دغو غورځنګونو اغیزه ځکه په بهرنیو هیوادو کې په افغاني پوهیدونکو کې نه لیدل کیده ولې چه په بهرنیو هیوادو کې زده کړه د محدود ممتاز قشر په انحصار کې وه مګر څه وخت چه له یوې خوا په محدوده اندازه نورو افغاني ځوانانو ته هم اروپا د تګ زمینه برابره شوه او له بلې خوا په افغانستان کې هم مترقي سیاسي جریاناتو خپله د فعالیت لمن پراخه او د ملکو په ګټه خپل سازماني مبارزه‌یي پیل کړه نو په اروپا کې هم د افغاني پوهیدونکو ټولنې منځ ته راغلې او د افغاني ستروڼکو د منې او طبقاتي ګټو د پاره ئې په مبارزه پیل وکړ. هرکله چه سړی په افغانستان نه بهر د افغاني پوهیدونکو د سیاسي غورځنګونو تاریخ ته نظر وځغلوي نو څرګندیږي چه د لمړي ځل لپاره د افغاني پوهیدونکو نهضت د آلمان د اتحادي جمهوریت د فرانکفورت په ښار کې منځ ته راغی او بیا په هند ته ښارکې د افغاني پوهیدونکو ته هم په سازماني توګه د افغان ولس د ملي او طبقاتي ګټو د پاره په مبارزه پیل وکړ.

د لمړي ځل لپاره په ۱۹٦٦ ع کال کې د فرانکفورت په ښار کې د افغاني پوهیدونکو ټولنه تأسیس شوه او بیا د ۱۹٦۷ ع کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۸ نیټه دغه ټولنه د فرانکفورت د ښار د پوهنتون له خوا هم په رسمیت وپیژندل شوه له دې څخه معلومیږي چه د افغاني پوهیدونکو سازماني جنبش تاریخ ډیر نوی دی ولې چه افغاني ځوانان د یوه بیرته‌پاتې دغسې قبیلوي (او فیوډالي) ټولنې محصول دی چه د سازماني او سیاسي مبارزې څخه لیري ساتل شوي او دا هغه شیدې چه د حاکمې طبقې د ګټو د تأمین او خوندي کولو لپاره له ملي احساس پردي خدمتګاران منځ ته راولي. خو د دې ټولو سره سره بیا هم ځینې کورنۍ او بهرنۍ عوامل د دې باعث شول چه د لمړي ځل لپاره افغاني پوهیدونکي په مبارزه باندې پیل وکړي مګر دا چه ولې دغې مبارزې په لمړي ځل د فرانکفورت له ښاره څخه سرچینه واخسته علتونه ئې په لاندې توګه ښودلی شو.

الف) کورنۍ عوامل:

۱ــ په دغه وخت کې د فرانکفورت د ښار زیات شمیر افغاني پوهیدونکي له کلیو او بانډو

څخه راغلی وو د شاهی مطلقه رژیم د ظلم اوناکردو ناوړه خاطری یې له ځانه سره راوړی وی.

۲ - د دغو پوهیدونکو زیاتی برخی د خوشحال‌خان    او رحمان‌بابا په لیسو کښی زده کړه کړی وه د ژوند شرائط یې په پښتونخوا کی یوشان وه او د اورد ګډ ژوند په اساس د دوی ترمنځ ملګرتیا پیژندګلوی تماس او اعتماد پیداشوی او تر ډیری اندازی د دغی پیژندګلوی په نتیجه کښی قبیلوی شعور ملی شعورته وده کړی وه.

۳- د هغه ملی ستم او ناروا سیاست په نتیجه کی چه د پاکستان استعماری حکومت په افغانی تر اسارت لاندی سیمه یعنی پښتونستان او بلوچستان کی پرمخ بیوه په دوی کی د پښتو او بلوڅو د ملی آزادی په مفکوره منځ ته راغلی وه.

۴- په ۱۹٦٤ کال کی په افغانستان نوی اساسی قانون منځ ته راغلی او په دغه قانون کی د بورژوازی آزادی څه ټکی هم موجود او چه له دغو ټکو څخه په افغانستان کی مترقی او خپل شکلی مبارزه ته ئې په سازمانی او سیاسی توګه فرصت ورکړ پلو او سیوښو د افغان ولس په ګټه استفاده وکړه چه د دغی مترقی د ملی مبارزه په بهرنیو هیوادو کی هم په افغانی پوهیدونکو باندی اغیزه وکړه.

ب) <u>بهرنی عوامل:</u>

۱- په یوروپ کی په عمومی ډول سازمانی او سیاسی ژوند پر اورد تاریخ لری چه د پرمختللونکو هیوادو په پوهیدونکو باندی اغیزه کوی تر لدی کبله د زیاتو پرمختللونکو هیوادو د پوهیدونکو سیاسی او سازمانی ټولنی موجودی وی. چه د دې د وارو عواملو په افغانی پوهیدونکو اغیزه وکړه.

۲- خصوصاً د ۱۹٦۰ د شروع څخه راوروسته پری اروپا د محصلینو په ټولنه کښی "د پوهیدونکو د جنبش" په نامه یو ستر سیاسی حرکت شروع شو د دی جنبش سری د اسی پیاتولای شی: پدی وخت کښی په سرمایه داری نړی کښی پراقتصادی بحران شروع شو او د بحران سرهم د دی ملکونو مترقی او دیموکراتیکی ډلی ترسختی سیاسی شکنجی لاندی راوستل شوې چه د دی عمومی سیاسی فشار څخه پوهیدونکو هم د خپل تعلیمی حالت په ترځ کی متاثر شول. او له بلی خوا د امپریالیزم بین المللی موتیول جابرانه عمل په دریمی نړی په ملکونو باندې او دهغوی په کورنیو چارو کښی د دوی بی ځایه مداخلی د پوهیدونکو په شعور عملی تاثیر وکړ او دا جنبش د افغانی پوهیدونکو په فعالیت کی یو عامل ګڼل شو.

۳- پدی تاریخی مرحله کی د نړی استعمار او امپریالیزم د ازادی غوښتونکو ملی جنبشونو مبارزې سره مخامخ دې چه د سوسیالیستی نړۍ او نورو مترقی هیوادونو د ملی نهضتونو او آزادی غوښتونکو جنبشونو ملا تړ کاوه چه د دی د افغانی پوهیدونکو په حرکت باندې مثبت تاثیر واچولو د بهرنیو عواملو په اساس نه یوازی د فرانکفورت د افغانی محصلینو ټولنه منځ ته راغله بلکه دغی ټولنی ته یې د یوی مترقی فلسفی په لور حرکت ورکړ.

<u>د عمومی اتحادیې د جوړولو څخه:</u>

د فرانکفورت د افغانی محصلینو د ټولنې د خپلې امکاناتو سره سم د ټېټ پاڅو او ګرزنده لیکونو په واسطه (متحد المال لیکونه) افغانانو او نورو خارجیانو ته څرګند کړل چه ټولنه د لنډمهاله هدف ونه د مثال په ډول یاد وو :

الف) خاص په محصلینو پورې مربوط مسائل: ۱- اول په مرسته د ګروپونو د روزنه کول او په خپلو منځو کی سیاسی شعور رزول .

۲- د خارجی فشار په مقابل کی د ټولنی د غړو حقوق ترخپلې وسې پورې ساتل .

۳- د افغانستان د پوهنتونو او په خارج کښې د افغانی محصلینو سره تروسې پورې د متقابلې مرستې او امکانا تو لټول .

ب) ملی مسائل :

۱- د افغانستان د کلتور او تاریخ تحلیل او د افغانی کلتور او اولس د المان او پاندې محصلینو ته پېژندل

۲- د افغانستان د ټولن اپرې او اقتصادی وضعی تحلیل .

۳. د تاریخی واقعیت لمخی د پښتونستان د خلکو د خود ارادیت د حق لپاره ملی ضد استعماری او ضد امپریالیستی مسئلې په حیث هڅه کول د ټولنې اساسی وظیفه ده .

(د فرانکفورت پوهنتون کی د افغانی پوهید ونکو د اساسنامی له لومړی مخ څخه)

د فرانکفورت د پوهنتون د افغانی پوهید ونکی ټولنی د خپلی اساسنا می د هدفونو سره سم د دی هڅه وکړه چه د افغانستان د خاوری هغه برخه چه په ۹ زور اوناروا سره د انګلیس استعمار لخوا د افغانستان له بدن نه شکول شوی او اوس د بلوچستان او پښتونستان په نامه یادېږی خلکوته ورپېژنی او هم ئې د پاکستان د استعماری حکومت له خوا ناکرد واو ظلمونو څخه چه په پښتو او بلوچو باندی کوی پرده اوچته کړه. د فرانکفورت د پوهنتون د افغانی پوهید ونکوټولنی سربېره پردی د افغانستان د مطلقه شاهی رژیم خیانتونه او د همون تش په نامه د یموکراسی هم رسوا کړه او د خپلو امکاناتو سره سم ئې هڅه وکړه چه د خپلې ملی او خلکی مبارزې لمن پراخه کړی او په نورو ښارونو او هېوادونو کی د زیات شمیر افغانی پوهید ونکو د سیاسی شعور د لوړولو او د ملی او طبقاتی مبارزې د پرمخ بیولو د پاره هم زمینه برابره کړی .

د فرانکفورت د ښار د افغانی پوهید ونکوټولنی د خپل دغه مقصد د پاره زیات شمیر عام مجلسونه مېلستیاګانی غونډی کنفرانسونه او سیمینارونه جوړ کړل چه په هر ځل په سلګونو کسانو ګډون کاوه په هغه پوه عامه غونډه کی چه د ۱۹۷۰ ع کال د اپریل په میاشت کی د فرانکفورت د افغانی محصلینو د ټولنی لخوا جوړه شوی وه د اروپا له بو شمېر نورو هېوادونو او د المان د اتحادی جمهوریت له بېلوبېلو ښارونو څخه ورته زیات افغانی پوهید ونکی راغلی وو او هم

**د پخوانیو هیوادو تولنو اود المان ستري د لو نمایندګانو او ریاست ختیز**
**پکښی په لویدیز المان د پخوانیو هیوادو**
**خلاف لیرونکو ګډون کړی وو.**

ددی هوندی په څنګه چه په بن کی د افغانستان د کلتوری خانګی او خو تنو نمایندګانو هم پکښی ګډون کړی وو د فرانکفورت د یوی ستری اوشهوری ورځپاڼی Frankfurter Rundschau په ۱۹۷۰ کال د اپریل د میاشتی په ۱۲ ګنه کی یوه اوږده مقاله لیکلی وه او د اسی خرګنده کړی وه چه له افغانستان نه بهر د لمری ځل لپاره د فرانکفورت د ښار افغانی پوهیدونکی دا جرأت وکړ چه د افغانستان د شاهی رژیم د ظلم او ناروا وخته پرده پورته کړه خپله کړکه او مبارزه اعلا م کړه.

ددی لپاره چه د لوستونکو لپاره هغه انګاره چه د افغانی ټولنې په ګډون دې تیجه کی هغه راغلی په خرګنده شی د هغه مقالی یوه برخه ترجمه اود لته یی لیکو:

"د فرانکفور تر روند شاو ورځپاڼی د خپلی مقالی په یوه برخه د اسی لیکی

"پدی میاشتی کی د افغانستان په فیودالی ټولنه اود چونځیو او پوهنتونو زیاتو چوپ سوه د هغو ډیناو او بحثونو په ترځ کی چه په هونده کی وشول دا ښکاره شوه چه د افغانستان رژیم نه یوازی د پوهی په ضد دی بلکه د اولس پر ضد د پر د بسمانه ماهیت هم لری. په بن کی د افغانستان وزیرمنشتار او کلتوری رئیس چه پخوا د کابل د پوهنتون رئیس هم وو او دغه ماشانی ته د کلتوری رئیس د نورو غړیو سره یوځای راغلی وو اود انتقاد وړ وګرځید د وی د خپلی بی کفایتی له امله پدی نه وُ خبر چه د افغانستان پوهیدونکی د قانون په چوکاټ کی د سیاسی بحثونو آزادی لری او کنه؟......"

څه موده ... د فرانکفورت افغانی پوهیدونکو یونس له خوا دا لیکه تولګوته واستول شو:

د فرانکفورت ...

د وستانو!

اوسنی ملی او بین المللی جریانات د بشریت د سرنوشت د ټاکلو حساسه مرحله ده.

تاسوته ښتره معلومه ده چه ددی جریاناتو د واره خواوی (ملی او بین المللی) د موږ د ګران هیواد په سرنوشت مستقیم تا ثیر لری. طبعاً د نړی هیڅ هیواد ددې حرکتونو او سیاسی جنبشونو څخه بی اغیزی نه پاتی کیږی.

تاسوته معلومه ده چه د وخت او شرائطو مطابق ددې تحولاتو په منځ کښی د نړی د نورو هیواد و روښنفکره ځلمیان او محصلین یو مهم تاریخی رول لری او هم ئی د رلود.

مګر کوو چه د نړی د پرمختللو هیواد و ځلمیانو د اجتماع د تکامل قوانین اود بشریت د لوی توسی پر ځلمونه د دقیق مطالعی په اساس درک کړی دی. په خصوصی ډول ئی په ملی او په عمومی توګه ئی په بین المللی سیاسی واقعاتو کښی ځپل متشکل او د تفاهم د ریر خرګند کړی دی او په اجتماع کښی د نړی جهان بینی او سیاسی ایدیال د عمل کولو لپاره په

منسکه مبارزه اخته دی.

په ډیر تأسف یادونه کوو چه د ګران افغانستان منور ځوانان او محصلین تراوسه پوری د خاصو شرائطو له مخی د تیری د تیرو هیوادونو د ځوانانو پشان د تاریخ په اوږدو کی د دې تشکیلاتو څخه بی برخی پاتی دی.

انفرادی او غیر سیاسی ژوند اتحاد متقابلی همکاری په خپلو منځونو کبی د سیاسی شعور د روزلو په دې ډول د ټولنی د تکامل اود تحول په ګوانبو کبی د ورود اوبلا خره د سیاسی تشکیلاتو سیاسی مبارزی او د متقابل اعتماد په لار کبی لوی خنډونه پیدا کړی دی.

پدی شك نشته چه د دی خنډونو له منځه وړل اسان کار ندی، اما په ضد یی مبارزه یو تاریخی ضرورت دی چه باید حتماً وشی.

که چیری وضع په موجوده حالت پاته شی طبعی ده خپلو منفی تاثیراتو ته به دوام ورکړی ځموږ د ادراك له مخی د دی تاثیراتو له منځه وړل د اتحاد — د سیاسی شعور د روزلو متقابلی همکاری او متقابل احترام له د امکاناتو پیدا کول د المان د اتحادی جمهوریت په بیلو بیلو پوهنتونو کی د اتحادیو اوبلا خره د ټولو محصلینو په ګډون د کنفدراسیون تشکیل ته جدی ضرورت لرو. نو ځکه په ډیر د رانیوی سره په غربی المان کبی ټولو افغانی محصلینو ته د دی ضرورت یادونه کوو. اوضمنا ځرګند ووچه په فرانکفورټ کبی د افغانی محصلینو د اتحادیی د المان غرب په پوهنتونو کبی ټول افغانی محصلینو (اود اتحادیو نماینده ګانو) ته پدی تاریخی ضرور پاندی د بحث لپاره د زړه له کومی فرانکفورټ ته د تشریف راوړلو دعوت ورکوی ځکه چه فرانکفورټ د غربی المان په ښارو کبی مرکزی موقعیت لری. زموږ په نظر د ملاقات مناسبه نیټه مسیحی اختر دی د دی لپاره ټولو وطنوالو ته به یوه ورځ د کتنی امکانات پیدا شی نو موږ د ١٩٦٦ ع کال د دسمبر ٢٢ نیټه د ملاقات لپری ورځ پیشنهاد کووکه محترم دوستان موږ ته د راتګ اونه راتګ څخه د دسمبر تر لسمه پوری خبر راکړی تر څو چه موږ وکولای شوچه ستاسو لپاره په ارزانه بیه په هامیونو کی د کوټو اود جلسی نورو ضروریاتو په لټه کبی شو.

## په فرانکفورټ کی د افغانی محصلینو اتحادیه

سربیره پردی د دې ټولنی په خارج کبی ټولو افغانی پوهیدونکو ته ځوځو ځله بلنی ورکړی د دې اود ١٩٦٩ ع کال د سپتمبر په میاشت کبی د دغو بلنلیکونو په نتیجه کبی د المان د اتحادی جمهوریت د مونستر، کریفلد او برلین پوهنتون افغانانو د فرانکفورټ ښار ته راغلل او عمومی اتحادیی د جوړولو په هکله لومړنی جرګه وشوه اوپه دغه جرګه کی ورسته له ډیر بحث او خبرو څخه د عمومی اتحادیی د منشور لومړنی مسوده جوړه شوه څو څرنګه چه د عمومی اتحادی د تاسیس کولو د پاره لږ تر لږه د دوه تشکیل شوی اتحادیو ضروری وی نو جرګی پریکړه وکړه چه باید د ډیر ژر په نورو ښارونو کبی د افغانی پوهیدونکی ټولنی جوړی شی

اود عمومي منشور مسوده د پیشنهاد په توګه نورو افغاني پوهېدونکو ته واستوله شي .
دلته دا خبره د یادولو وړ ده چه په ۱۹۶۶ کښې په هامبورګ کښې د افغاني محصلانو په نامه یوه ډله منځ ته راغلې وه خو د فرانکفورت د ټولنې له پرنسیپي بنسټونو او غوښتنو سره یې د عمومي اتحادیې په جرګه کې برخه وانه خیسته . د دغه پلن لیک په اساس داخل هم له نورو ښارونو څخه هم افغاني پوهېدونکي راغلل خو څرګنده چه تر دغه وخته پورې په نورو ښارونو کښې افغاني پوهېدونکي متشکل شوي نه وو او د پوهېدونکو ټولنې نه وې جوړې شوې نو جرګې داخل هم پرېکړه وکړه چه په نورو ښارونو کښې دې د افغاني محصلینو د متشکل کېدو او د ټولنو د جوړولو د پاره دې تبلیغات او فعالیتونه زیات شي دلته باید دا خبره هېره نشي چه د فرانکفورت د افغاني پوهېدونکو د پلن لیک او بیا بیا غوښتنې سره بیاهم هغې یوې ډلې چه په هامبورګ کښې منځ ته راغلې او یوه ځان یې د افغاني محصلینو اتحادیې نوم اېښې و، په جرګې کښې ګډون ونکړ .
په ۱۹۷۱ کال کښې په لندن او د المان د اتحادي جمهوریت د مونستر په ښار کښې د همدغو فعالیتونو په اثر د افغاني پوهېدونکو ټولنې جوړې شوې او بیا د همدغه کال په ۲۱ نېټه د دسمبر څخه وروسته د ۱۹۷۲ کال د جنوري د میاشتې تر څلورمې نېټې پورې د لندن مونستر او فرانکفورت د افغاني پوهېدونکو د ټولنو نماینده ګانو په فرانکفورت کښې د څېړنې یوې جرګې په ترڅ کښې د عمومي اتحادیې د منشور مسوده بشپړه او تصویب کړه او ګډه اعلامیه یې د منشور سره سم ټولو افغاني پوهېدونکو ته اعلام کړه .
په دغه وخت کښې د عمومي اتحادیې د مشرتوب چارې د لندن — مونستر او فرانکفورت ټولنو په غاړه واخستې او عمومي اتحادیې مرکز د یوه کال لپاره د مونستر ښار وټاکل شو خو وخت چه عمومي اتحادیه منځ ته راغله او د فعالیت لمن یې د لوېدیځې اروپا د نورو ښارونو ته اوږده شوه نو یوه ناخاپي ډول د هامبورګ د افغاني محصلانو ډلې هم په عمومي اتحادیه کښې د غړیتوب غوښتنه وکړه او بیایې پیشنهاد وکړ چه فوق العاده کانګره دې د هامبورګ په ښار کښې جوړه شي دا پیشنهاد د ټولو غړو اتحادیو له خوا ومنل شو خو څه وخت چه یوازې دوه درې ورځې د کانګرې د جوړېدو وخت ته پاتې وې نو د هامبورګ ډله له خپل پیشنهاد څخه پښېمانه شوه او یې هامبورګ کښې د کانګرې دایرول رد کړل . د هامبورګ د اتحادیې د دغه ډول عمل سره سره بیاهم عمومي اتحادیې وکړل شول چه ژر د کانګرس د دایرولو بل ځای وټاکي او یې د ترتیب فوق العاده کانګرس چه په همغې کښې د اخن مونستر هامبورګ او فرانکفورت د افغاني ټولنو نماینده ګانو ګډون کړی وو په مونستر کښې جوړه شوه — د دغې کانګرې په ترڅ کښې د اخن د ښار اتحادیه هم د عمومي اتحادیې د غړي په حیث ومنل شوه .

پرې ناسته کښې د افغانستان په بهرنۍ او اقتصادي وضع باندې بېر اوږده بحثونه او خبرې وشوې او د عمومي اتحادیې د ارګان «سپوږمۍ» د خپرولو په باره کې هم وشوه. په دې ناسته کې دا تصمیم ونیول شو چه د افغاني پوهېدونکو د ښه سره ... د تیوري د پاره باید په ښارونو کښې خو علمي سیمینارونه هم جوړ کړل شي.

د فرانکفورت د افغاني محصلانو ټولنې په دغه کانګره کښې د جوړې شوې سیمینار د دایرې او وظیفه په غاړه واخسته او د سیمینار ځای د بن ښار وټاکل شو. د فرانکفورت د افغاني پوهېدونکو ساینډګان د هوټل د اتحادیه کانګري د پرېکړې سره سم د سیمینار د دایرولو د پاره یې نه راتلل پدې سیمینار کښې د هامبورګ ــ آخن ــ مونستر ــ برلین ــ بن او فرانکفورت د افغاني پوهېدونکو د ټولنو ګډون شمیر ګروګډون کړی وو خو ګنګه علمي سیمینار مجازي په علمي مرکزونو باندې د بحث او د تجربو د بدلون صلاحیت لري او ټولو پرېکړې نشي کولای خو بیا هم د هامبورګ آخن او برلین دي چه د وطن پالونکو افغاني پوهېدونکو له مشکل کېدلو څخه په ویرا وېره کښې وو ټوپ ... چه د افغاني پوهېدونکو د عمومي اتحادیې مشور ته ورستو لاندې ټکي او یې د سازمانې د پیچلتیا په نظر کښې نیولو څخه سیمینار په کانګري بدل کړي او د عمومي اتحادیې مرکز بېل لاس کښې واخلي خو د افغاني پوهېدونکو هغو ټولو چه مسۍ او وطن پرستانه د ریخ یې حرکت ... د بېشرمانه اقدام په ضد یې مقاومت وکړ، او بیا څه وخت چه د دعوو تو د هغوی بحث او خبرو د پاره لاره ونیوله نو د وطن پالونکو اتحاد پوهنې د احتجاج پروتست په عنوان له جرګې څخه ووتل او یې د ترتیب د ماجرا ــ غوښتونکو د تو هغه هدف چه د عمومي اتحادیې مرکز لاس ته راوړي او د خپلو مقصدونو د پاره یې استعمال کړي لاس ته ونه رسېد و وروسته ددې د دعوو تو خپل ناکتنیک وارا ژا او د بیره لیک په ترڅ کښې په خپل غیر اصولي عمل باندې اعتراف کړی او بخښنه یې وغوښتله.

د ۱۹۷۱ کال په پای کښې هغه وخت چه د عمومي اتحادیې د وهمه کالنۍ عادي کانګره د فرانکفورت په ښار کښې جوړه شوه نو د هامبورګ آخن او برلین د تو نه خپل هغه بېشرمانه عمل څخه چه په بن کښې یې د علمي سیمینار په ترڅ کښې کړی وو بخښنه وغوښته او خپل کار یې پخپله وعانده د دغې کانګري په ترڅ کښې د بن ښار د هر کال د پاره د عمومي اتحادیې د مرکز په حیث وټاکل شو. په ۱۹۷۲ کال کښې دوه سیمینارونه جوړ شول چه یو یې په بن او بل یې په آخن کښې وو. د بل له سیمینار وروسته ۱۹۷۳ کال د جولای د میاشتې په ۱۷ نیټه په افغانستان کښې پادشاهي رژیم نسکور او جمهوریت اعلام شو کله چه د افغانستان نوی جمهوري نظام خپله کړنلاره خپره کړه نو د فرانکفورت د افغاني پوهېدونکو ټولنې او هم دغراز د پوښتنې نورو افغاني پوهېدونکو ټولنو په افغانستان کښې د جمهوریت راتګ

یو مثبت گام وباله او د هغه پروگرام د عملي کولو سره یې خپل ملاتړ څرګند کړ چه د پېښور
مجمع تر عنوان لاندې د افغانستان خلکوته اعلان شوی وو په همدغه کال په اخن کې
د ملي آزادۍ بخښونکو غورځنګونو او د افغانستان د جمهوریت په هکله یو علمي سیمینار
جوړ شو — په دغه سیمینار کې په ښوره بیا د افغانستان د جمهوریت په باره کې د
نظریو نه پخلاکېدنکي اختلافات منځ ته راغلل — د اخن، برلین او هامبورګ ډلو بیا خپله
ضد ملي بڼه وښوده او د جمهوریت راتګ یې یو ارتجاعي عمل او په خپله اصطلاح د یوه
پېړۍ قدرت د سیمه وګڼله د دغه ستر اختلاف سره سره بیاهم د ۱۹۷۲ کال په پای او د
۱۹۷۴ کال په لمړیو ورځو کې د عمومي اتحادیې د ریمه عادي کالنۍ کانګره د مونستر
په ښار کې جوړه شوه په دغه کانګره کې چه د ویانا، فرانکفورت، ګیسن، کولن، مونستر، بن،
برلین او هامبورګ د ټولنو نمایندګانو ګډون کړی وو د مونستر ښار د دوهم ځل د پاره د
عمومي اتحادیې مرکز وټاکل شو. په دې کانګره کې بیاهم په افغانستان کې د جمهوریت
راتګ پاندې پښتونه وشول او د عمومي اتحادیې د اکثریت له خوا د افغانستان جمهوریت ته
یوه مثبت گام په حیث تائید شو او یو فیصله لیک د جمهوریت په هکله د عمومي اتحادیې
د دریځ په تصویب ورسید (د عمومي اتحادیې د دریځ ونه د سپرغۍ په شپږمه ګڼه کې د
فیصله لیک تر عنوان لاندې نشر شوی دی.) خو د هامبورګ، اخن، برلین او ګیسن (یو لمی
یو نماینده) چه ونه لید ل شي کولای چه خپل ضد ملي دریځ په عمومي اتحادیې پاندې وتپي
نو له کانګرې څخه ووتل. په ۱۹۷۴ کال کې په ګیسن کې یو علمي سیمینار د افغانستان
د روزنې د سیستم په هکله جوړ شو په دغه سیمینار کې بیاهم همغو ډلو چه د مونستر له
کانګرې څخه وتلي وې دا هڅه وکړه چه د جمهوریت په هکله د عمومي اتحادیې د فیصله لیک
په ضد اقدام وکړي مګر د پوهنتون افغاني پوهیدونکو د ټولنو د نمایندګانو د علمي تحلیل په
اساس د هغوی بې بنیاده ادعاګانې رد کړې په دې سیمینار کې د هغو کسانو ضد ملي
څېره نور هم پسې څرګنده شوه چه په افغانستان کې یې د جمهوریت د راتګ او د جمهوري
نظام د کرښلارۍ او پروګرام پر ضد فعالیت کاوه.

په ۱۹۷۴ کال کې یو بل علمي سیمینار د فرایبورګ په ښار کې (چه په دې وخت کې یوه
نوې ډله متشکله شوې وه) دا یې شو څرګنده په دغه سیمینار کې پوښتنمیر وطن پالونکو ټولنو
د تخنیکي مذاړونو له امله ګډون نه و کړی نو ضد ملي عناصرو چه له ډېرې مودې او دول دول
تاکتیکونو په ترځ کې د دغسې ورځې انتظار ایسته موقع مساعده وګڼله او بیا یې د عمومي
اتحادیې د منشور په ضد سیمینار په کانګرې بدل کړ او اعلان یې وکړ چه دوی پریکړه کړې
ده چه د عمومي اتحادیې مرکز دې د اخن ښار وي نو د عمومي اتحادیې له مرکز څخه یې

چېه مونستر کښې وه په یوه لیله کښې د عمومي اتحادیې د اسناد او نورو موادو څېړنه وکړه څو عمومي اتحادیې د دوی دا بې اساسه اوله هرراز سازماني او حتی اخلاقي قوانینو څخه پردې غوښتنې یې ونه منله او موادیې ورنکړل. داځن دلي چه د عمومي اتحادیې د منشور په خلاف یې خپل ځان د عمومي اتحادیې مرکز باله د منشور یوه نوې مسوده جوړه کړه او نورو اتحادیو ته یې بلنه ورکړه چه د یوه فوق العاده کانگرس د جوړه برلین ته راشي خو څرنګه چه زیات شمیر اتحادیو د اځن د اتحادیې له دغه غیر اصولي اوپه خپل کار سره چه ځان یې د عمومي اتحادیې مرکز اعلان کړی وه موافقه نه درلوده نو د فوق العاده کانگرس د بلنې پرضد یو زیات شمیر اتحادیو احتجاجونه وکړل اودا کار یې بیاهم د هغوی له هغو ناکامو کوششونو څخه وگاڼه چه د خپلو ضد ملي مرامونو د پاره په خارج کښې د پوهېدونکو د جنبش د رهبرۍ د لاس ته راوړلو د پاره یې کوي.

داځن د دلي د غوښتنې اساس یوازې د هامبورگ برلین او فرانکفورت د لو په برلین کښې تش په نامه کانگرس جوړکړ. خو څرنګه چه د وی داعمل هم خپل مقصد ته ونه رسید ل او د لګه‌گی بیاهم پخپلو منفورو کښې د لګه‌گی پاتې شوې نو اعلان شوې کانگرس ته یې د جرګې نوم ورکړ اوپه ډېره بې شرمې بیاهم هغه کانگرس ته چه د عمومي اتحادیې د مرکز مونستر له خوا د ۱۹۷۵ اکال په لومړي سرکښې د فرانکفورت په ښار کښې جوړ شوی وه راغلل.

د وی داعمل بیاهم د دې هڅه وکړه چه د خپل مقصد د لاس ته راوړلو د پاره له یو خپل غیراصولي تاکتیک څخه داهم د عمومي اتحادیې د منشور د څرګندې مادې په ضد وه استفاده وکړي او هغه داسې چه غوښتل یې تولو هغو کسانو ته چه په کانگره کښې حاضروه د رایو ورکولو حق ورکړي حال دا چه د عمومي اتحادیې په منشور کښې په ښکاره توګه داخبره یاده شوې ده چه د هري غړي اتحادیې د وه تنه نمایندګان د رایو ورکولو حق لري نورو ګډون کوونکي کولای شي چه یوازې خپلې نظریې وړاندې او څرګندې کړي او پېشنهاد ونه وکړي خو د رایو ورکولو حق نلري. د وی د خپل د غه تاکتیک د عملي کولو د پاره له هري خوا څخه تول کسان چه د افغانستان د جمهوري نظام د ځان د ګټو پرضد ګڼه راټول کړي وه او کانگري ته یې راوستي وه خو وخت چه د خبرو په ترځ کښې د منشور د څرګندې مادې یاد ونه وشوه نو داځن د اتحادیې یوازې نماینده د امنشور چه د هغه اساس عمومي اتحاد په جوړ شوی اوهم د هغه منشور په اساس تول سرمراغونډ شوی وه یو ارتجاعي منشور وباله اود منشور په اساس د هرراز پرېکړې د منځ ته راتلو مخه یې ونیوله له هغه کبله د وو ورځو بحث او خبرو سرسره بیاهم کانگرس د منشور سره سم رسمي بڼه غوره نکړای شوه او ګډون کوونکو اتحادیو په دې پانده ی موافقه ښکاره کړه چه په راتلونکي وخت کښې د ی یو فوق العاده—

کانګرس جوړ شي او د دغه کانګرس تر جوړېدو پورې دې بیاهم د عمومي اتحادیې چارې د مونسټر اتحادیه په پرمخ بوځي . د دغه پېشنهاد په اساس مونسټر اتحادیې مرکز له خوا د مونشن په ښار کښې د ۱۲–۱۸ د می ۱۹۷۵ کال فوق العاده کانګرس جوړ کړ په دغه کانګرس کښې د فرانکفورت، کولن، بن، مونشن، ګیسن او ویانا د پوهنتونو په څېر ټولنو برخه واخسته . په دغه کانګرس کې یو فیصله لیک تصویب او رڅېرګړی شوچه په شپږمه ګڼه د سپرغۍ کې نشر شوې دی برسېره پر دې د عمومي اتحادیې د منشور شپږمه ماده تصویب شوه چه د سپرغۍ په اوومه ګڼه کې خپاره شوې وه. اود پاتې روان کال ۱۹۷۵ لپاره ویانا د عمومي اتحادیې مرکز وټاکل شو. په ۱۹۷۵ کې علمي سیمینار د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ په هکله په مونشن کې دایر شو. لکه څرنګه چه مو وویل د فرانکفورت په کانګرس کښې چه ټولو پدې موافقه ښکاره کړه چه د فوق العاده کانګرس ځای او نېټه دې د عمومي اتحادیې مرکز یعنې مونسټر له خوا وټاکل شي. خو هغه وخت چه د مونسټر له خوا مونشن ته د عمومي اتحادیې کانګرس را وبلل شو په هم دغه وخت کښې د اخن ډلې د یوه فوق العاده کانګرس اعلان د هانوور په ښار کښې وکړ۔ دغو ډلو پخپلو هلو ځلو په نتیجه کښې په هانوور کې هم له د یو شمېر عناصرو څخه یوه نوې ډله منځ ته راوسته. په خو دغه ډله د عمومي اتحادیې غړې نه وه نو هماغه وه چه د اخن، برلین، هامبورګ ډلو د هانوور له ډلې سره یو ځای په هانوور کښې جرګه جوړه کړه او د اغلبې بیاهم د ټولو د یموکراټیکو اصولو پرضد خپلې دغې غونډې ته د۔ کانګرس نوم ورکړ او د عمومي اتحادیې مرکز یې پخپل سر د هانوور ښار وټاکو او بیایې هم د عمومي اتحادیې مرکز مونسټر څخه د اسنادو غوښتنه وکړه خو د عمومي اتحادیې مرکز چه ترډې وخته پورې په مونسټر کښې وه د دوی د اغوښتنه ونه منله او ټولو غړو اتحادیو ته یې د دغو ډلو غیراصولي او بېشرمانه اقدام په هکله معلومات ورکړ او پدې توګه پخارج کښې د افغاني پوهیدونکو جنبش له هغو ډلو او عناصرو څخه چه تر بېلو بېلو نومونو لاندې ئې د افغان ولس په ضد او د مترقي پروګرامونو د عملي کولو په لاره کښې یې خنډ ونه پیداکول پاک شو . دې کښې شک نشته چه دغه ډلې اوس هم خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي اود ماویزم۔ ملي ستم او د اسې نورو ضد مترقي جامو لاندې د افغان ولس د ټوټه کېدو او د افغانستان د ملي – وحدت د ویجاړولو او په منطقه کښې د پردیو قومونو د خوشحالولو د پاره خپلو کوششونو ته دوام ورکوي .

۱۹۷۵ کال د دسمبر د میاشتې ۲۷ او ۲۸ نېټه په بن کښې د عمومي اتحادیې پنځم عادي کنګره او علمي سیمینار دایر شو . په علمي سیمینار کښې د افغانستان د اجتماعي وضعې تحلیل او په دریمه نړۍ کې د یو شمېر جنبشونو او کودتاوو باندې بحث وشو چه ځینې مضمونونه

او فیصله‌لیک په اومه ګڼه د سپرغۍ کې خپاره شول . په دې کنګره کې ټولو وطن‌پالونکو او مترقي افغاني پوهېدونکو ټولنو او مترقي د یموکراتیک افغانانو ګډون کړی‌و . چه‌ګډون‌کونکي ټولنې د اوپ بن‌ـ فرانکفورت‌ـ کیسن‌ـ هامبورګ ـ ویانا ـ د مونشن ټولنې د تخنیکي مشکلاتو له کبله ګډون نه‌وه‌کړی . په دې کنګره کې فرانکفورت د افغاني پوهېدونکوټولنه د عمومي اتحادیې د مرکزیه حیث وټاکل شوه د فرانکفورت‌اتحادیې د شپږمې عادي‌کنګرې د فیصلې سره سم خپل فعالیت ته دوام ورکړ او اتمه ګڼه سپرغۍ یې خپره کړې .

د وه خلي یې په بهیر کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ جنبش او د پاکستان استعماري دولت فاشستي ظلمونو او ظلمونه نړۍ‌والوته د ټیټ پاڼو په وسیله وښودل — د نورو خارجي مترقي او د یموکراتیکو پوهېدونکو، سوله‌غوښتونکو او ملي‌آزادۍ‌غوښتونکو سازمانو په کنګرو، علمي سیمینارونو او نورو ګډو ټیټ‌پاڼو کې فعاله برخه واخستله . چه خصوصاً د المان مارکسستي سپارتکوس، د فلسطینیانو ملي ازادۍ‌غوښتونکو او د ایراني د د یموکراتیکو پوهېدونکو او ځوانانو د ټولنې سره د نږدې نه تماس ونیول شو او ګډ کار نورهم دوام لري او اوس په دې هڅه کې دي چه نورو سوله‌غوښتونکو مترقي د یموکراتیکو بین‌المللي سازمانونوسره تماس ونیول شي .

په ١٧ او ١٨ د جولای ١٩٧٦م کال کې پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ په باب یو علمي سیمینار په فرانکفورت کې دایر شو . په دې علمي سیمینار کې برسېره پر افغاني پوهېدونکو پښتون‌ـ زلمي، پښتون‌ستوډنټ فیډریشن غړو او پښتنو کارګرو فعاله برخه اخستې وه . چه د دې سیمینار مضمونونه به لوستونکو ته خپاره شي .

ورسته د بنګله‌دېش د ملي‌آزادۍ څخه د پښتنو او بلوچو ملي آزادۍ غورځنګ خورا زیاته پنکتیابي پیدا کړه دا ځکه چه د پوځ او د اسلام په نوم تش جوړکړی پاکستان رنګ شو او د بلې خوا د د ریوطنونو د بنګالیانو عام قتل د پاکستان فاشستي پوځي رژیم ربښتنی څېره ټولو خلکونه په‌ملي او نړۍ‌سویه رسوا شوه نو پاکستان ټوله پوځي قوه د بلوچو او پښتنو ملي‌آزادۍ غورځنګ ته متوجه کړه د هند سره یې داسې جوړه وکړه لکه ځنګه چه هند غوښتل نو هغه دی وخت کې افغانستان کې کودتا وشوه او جمهوریت راغی نو د جمهوریت په لومړي کال کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ لپاره پروپاګنده زیاته شوه نو د دې پېښو په‌واسطه د نړۍ نوی امپریالیزم او د پاکستان استعماري‌حکومت او فاشستي تېرور د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د جنبش په مقابل کې عام‌قتلونه شروع — پښتون‌زلمي — نشنل‌عوامي‌ګوند او نوروملي د یموکراتیک او ضد امپریالیزم او ضد استعمار سازمانونه او ګوندونه بند او غیرقانوني اعلان او د لسونو څخه زیات سیاسي بندیان او زیات شمېر یې د افغانستان پلو ته خاورې او غرونو ته د سیاسي پناه د اخستلو لپاره بوروړ ته راغلل . ځنګه چه هیڅ داسې طاقت نشته

اونه به پیدا شي چه د ملي آزادۍ روحیه او غورځنګ مرکزونه یې یوروپ کې پښتنو او بلوڅو
خپلې مبارزې ته دوام ورکړ. ځکه چه د فرانکفورت په ښار کښې د پښتنو کارګرو شمیر زیات
دی نو یې منظموخوند ئې پیل وکړ او د افغاني پوهیدونکو سره ئې تماس ونیولو او د یو منظم
سازماني ټولنې د جوړښت لپاره یې په فرانکفورت کې افغاني پوهیدونکو ټولنه میلمانه کړه
د فرانکفورت د افغاني پوهیدونکو له خوا دا میلمستیا په ډېره زیاته خوښه ومنله شوه.

نو پدې توګه ورسته د زیاتو بحثو په شپږم د جون ۱۹۷۶م کال د پښتنو او بلوڅو د ملي —
آزادۍ ټولنې بنسټ کېښودل شو چه د دې ملي آزادۍ ټولنې منځ ته راتګ د افغاني پوهیدونکو
پوسترازمان په ځای شو او د پښتنو او بلوڅو سره په ګډ کار پیل وشو. د دسمبر په ۲۴ او
۲۵ د ۱۹۷۶م کال د افغاني پوهیدونکو عمومي اتحادیې پوعلمي سیمینار او کنګره په فرانکفورت
کې دایریږي. ۲۶ د دسمبر ۱۹۷۶م کال د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ ټولنې له خوا د دې ټولنې
په ویار د پښتنو او افغانانو ته میلمستیا شوې ده چه آزاد بحثونه او کلتوري چارې بېودل
شي.

موږ تراوسه پورې د افغاني پوهیدونکو د جنبش د منځ ته راتګ، ودې او پیلتون ظاهري
پنه وښودله او اوس به په لاندې ځوکرښوا کې د دې هڅه وکړو چه د ټول جریان نتیجه ګیري
خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړو؛

دا یو منل شوی حقیقت دی چه ارتجاعي او ضد ملي قوتونه له بېلو بېلو لارو د دې هڅه کوي
چه د ملي او مترقي غورځنګونو د ودې او پرمختګ مخه ونیسي.

دلته په اروپا کې هم هغه وخت چه د افغاني پوهیدونکو لومړۍ ملي ټولنه جوړه شوه نو د
ارتجاع نمایندګانو هم خپله ډله منځ ته راوستله او هغه وخت چه ئې ولیدل چه دغې ملي ټولنې
په ډېرو ښارو کې هم زیات شمیر طرفداران وموندل او د ټولو افغاني پاکو ځوانانو له خوا ئې
ښه هرکلی وشو. نو د ارتجاعي د نمایندګانو ډله چه په لومړي سر کې په هامبورګ کې منځ ته
راغلې وه. د دې هڅه وکړه چه دغه د ملي ځوانانو ټولنه له داخل نه وېجاړه کړي او یا دا چه
له مختلفو لارو او د سهمو څخه د ملي او مترقي افغاني ځوانانو ترمنځ د ملیت، ژبې، مذهب
او داسې نورو له لارې اختلاف او بدبیني منځ ته راولي او د ملي ځوانانو ټولنې یوازې د پښتون
ملیت د ګټو ساتندوی وبولي او هم د ډېرو پاکو وطنپالونکو هغو افغانانو ته چه مورنۍ ژبې دري،
بلوچي، ازبکي ترکمني او نورې وي تل دا تبلیغ کړي چه د پښتون ملیت په افغانستان کې
حاکم او استثمارکوونکی ملیت دی او باید د دوی پر ضد مبارزه وشي.

حال دا چه ملي او مترقي افغاني پوهیدونکي تل د دې نمایندګي کړې ده چه د دیموکراتیکو
اصولو په اساس باید د افغان اولس مختلفو قومونو او ملیتونو ته لکه ازبک، بلوچ، تاجک، ترکمن

پښتون، هزاره او نورو ته اقتصادي، سیاسي، کلتوري او ژبني حقوق ورکړ شي. چه لدې لارې له یوې خوا زموږ افغاني کلتور ښتمنۍ کې زیاتوالی راځي او له بلې خوا د سوء تفاهم او بدګمانۍ ریښې له منځه ځي. زموږ د ګران وطن افغانستان په وګړو کښې سره یووالی، د دوستۍ وروګلوۍ حس او د ملي یووالي انقلابي روحیه تقویه مومي.

لومړنۍ زده کړه باید د هر ملیت په مورنۍ ژبه وي. همدغه راز په مطبوعاتو او داسې نورو علمي څانګو کې باید هم دغه دیموکراتیک پرنسیپ ومنل او عملي شي.

د ملي یووالي ټینګښت لپاره باید ټول افغان اولس په پښتو ملي ژبه پاندې چه د افغان ولس د ستر اکثریت ژبه ده پوه شي. لدې کبله ضروري ده چه د لومړنۍ زده کړې سره پښتو ژبه د یو مضمون په حیث بدرګه وي. تر څو چه لوړ تحصیلات په ملي ژبه پښتو وکړی شي او پدې توګه سره د بهادرو او مبارز افغان اولس په منځ کې ورورګلوۍ او ملي یووالی ټینګ او د افغانستان د چټکې پرمختیا او ترقۍ لپاره لاره هواره شي.


هغه وخت چه په افغانستان کې پادشاهي رنګه شوه او جمهوري رژیم اعلام شو نو د هغو ضد ملي دلو واقعي څېره نوره پسې څرګنده شوه او بیائې هیڅ رد او ګودر نه پېژانده او په ډېره بې شرمۍ سره ئې په افغانستان د پادشاهي رژیم رنګېدل یوه خارجي دسیسه او ارتجاعي عمل وباله. د افغانستان د جمهوري دولت هغه پروګرام چه د ( خطاب به مردم ) تر عنوان لاندې د افغانستان خلکو ته اعلام شوی او ټولو هیوادپالونکو ملي او مترقي قوتونو ئې ملاتړ کړی دی په ډېره بې شرمۍ رد کړ او له دې څخه چه کوم دلیل ورته ولري هغه ئې یو ارتجاعي پروګرام وباله. دوی په دغه وخت حتی د ماوستي ایدیالوژۍ ( چه ارتجاعي ماهیت ئې په ملي او بین المللي سویه رسوا شوی دی ) چه دوی ئې خپل ځانونه وفادار ګڼي د پرنسیپونو مراعات هم ونه کړ او د هغو دلو سره ئې چه د مذهب تر پردې لاندې د امپریالیزم د پاره خدمت کوي لاسونه ورکړل او د افغان اولس په ضد ئې خپلې هلې ځلې لا هم پسې زیاتې کړې. د دوی د بې شرمۍ د ثبوت د پاره دا دلیل کافي دی چه دوی له یوې خوا په ښکاره توګه د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ غوښتونکي جنبش په ضد ویناوې او عمل کوي او دا د پاکستان یوه کورنۍ مسئله ګڼي خو له بلې خوا بیا د یو شمېر پاکو عناصرو د غولولو او د ځینو افغانانو د جلبولو د پاره کله کله په خپلو خپرونو کې هم د پښتنو او بلوچو د مبارزې یادونه کوي. خو په واقعي توګه د دوی دریځ د دې افغاني ملي مسئلې په هکله هماغه دریځ دی چه پنجابي استعمار او د ایران فاشستي رژیم ئې لري.

دوی پدې برخه کې د ایران د پادشاه له ډېرو مرتجعینو نمایندګانو سره ګډ کار او د افغان ولس د ملي یووالي د ویجاړولو د پاره فعالیت کوي.

موږ ټولو وطنپالونکو مترقي او پاکو افغانانو ته د دغو دلو له دسیسو پښتو او نورو خپرو څخه

چه شاته ئې ضد ملي هڅه ونه پرانه دی خبر ورکوو او د ټولو افغاني ځوانانو څخه د دوی په مقابل کې د دېرې وېښتیا او بېداري غوښتــــنه کوو .

**************************



## د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه

ګرانو لوستونکو ته دا معلومه ده، چه سږرمې پخپلو ښارو ګنو کې هم د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د جنبش په باره کې خبرونه کېږدي او زموږ لپاره دا داسې یو واقعیت دی، چه د افغانستان د حکومت سرنوشت په راتلونکې کې ستر رول لوبوي، نو ځکه موږ بیا لازمه ګڼو چه په دې جنبش باندې بیا هم لوستونکو ته خبرتیا ورکړو او په مختصر ډول باندې تبصره وکړو. په دې لړ کې به موږ هڅه او کوښښ وکړو چه (د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه) ګرانو لوستونکو ته ور وپېژنو.

په پښتونستان او بلوچستان کې له ډېرې مودې را هیسې د پاکستان د استعماري او ملي ستم په مقابل کې د دې ځای د اوسېدونکو له خوا منظم او ګوریلائي جنګونه روان دي، چه هغې جګړې د پاکستان حکومتونه او همدارنګه په افغانستان کې ارتجاع سخت وارخطا کړې دي. دا ځکه چه ارتجاعي دولت په دې دواړو ملکونو کې، چه د بین‌المللي امپریالیزم سره تینګ اړیکې لري، د پښتنو او بلوچو د خودارادیت حق چیغې د دوی لاس‌لاندې وي او ګټې ئې په خطر کې اچوي. نو ځکه دوی همېشه په ګډه دا کوښښ کړی دی چه په مختلفو فریبونو او دسیسو سره د دې جنبش مخنیوی وکړي. د دغو پېښو په لړ کې د پاکستاني ارتجاع حلقې د ډېر ناوړه او د بشري حقوقو سره په هر لحاظ مخالف عملیات دادي لکه: په تېر کال کې د نېشنل عوامي ګوند بندول او د دې ګوند مشران او یو شمېر نور غړي په بندیخانو کې اچول، څو هغتې پخوا د ډېر په حلکو باندې د عام قتل جاري کول او د افغانستان او پاکستان د حکومتونو په منځ کې روغه او پټې مجلس وي، کوم چه د دې ثبوت موږ ته را کوي، چه دغه دواړه ارتجاعي دولتونه په حقیقت کې دا هڅه کوي چه پښتانه او بلوچ د خپل حق نه محروم او د تل لپاره غلامان پاتې شي.

خو د پښتنو او بلوچو د دوی د مبارزې تاریخ دا څرګنده کړېده، چه د دې حلکو د پاکستاني استعمار او افغاني بیوکراتیو ضد ملي دسیسو ته تل په زړه ځواب ورکړېدی او ورځ په ورځ د دوی مبارزه قوت مومي او خپل ځانونه متشکل او منظم کوي. د دوی مبارزه په دې وختونو کې د ومره محکمې تللې ده چه حتی په خارج کې ئې هم خپل تاثیرات خپاره کړل او په بهرنیو کې اوسېدونکي پښتانه او بلوچ خپلو مسؤلیتونو ته متوجه شول او خپلې مبارزې پر مخ بیائي.

کله چه د پاکستان حکومت په نیږدې ډیموکراتیکه توګه نېشنل عوامي ګوند بند کړ او یو زیات شمېر پښتنو او بلوچو بهرنیو ته سیاسي پناه راوړه او د خپلې ملي آزادۍ لپاره ئې بیا مبارزه پیل وکړه. کله چه د افغانستان حکومت له خوا د پاکستان صدراعظم بوټو کابل ته په لسم د جنوري ۱۹۷٦م

کال مهمه شوه. په یوروپ کې د پښتنو او بلوڅو د دې روښ او جوړې له کبله د پاکستان استعمار او د افغانستان ارتجاع ته ګوري ځواب ورکړ چه هغه د دې ورځې په بېګا په شپږم د جنوري ۱۹۷٦ م کال په یوروپ کې د پښتنو او بلوڅو کارګرو د غربي المان د فرانکفورت په ښار کې لا «د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنې» بنسټ اعلان کړ.

د افغاني محصلینو عمومي اتحادیې ته هم په دې تولنه کې بلنه ورکړل شوه، چه د افغاني محصلینو له خوا په ډېر افتخار او خوښۍ سره ومنله شوه.

موږ په داسې حال کې پښتنو، بلوچو او کارګرو ته د دې ستر ملي اقدام ډېرې زېرې ورکوو او د دوی سره د خپل هر ډول کمک وعده ورکوو. غواړو چه د دوی هغه لیک چه موږ ته ئې رالېږلی دئ ګرانو لوستونکو ته په سپرغۍ کې چاپ کړو.

د استعمار ماڼو کې بیا ژړا شوه — تاله واله کور د افغان جوړېږي
پښتنو تاسې باندې زېرې کوم — خبر ئې څه؟ پښتونستان جوړېږي
(اجمل خټک)

زیری

د اولسونو د آزادۍ د مبارزې په تاریخ کې ځینې پېښې نه هېرېدونکې او د هرې پلوه د یادونې او اهمیت وړ دي. دغسې د پښتنو او بلوچو د آزادۍ د مبارزې په اوږد تاریخ کې هم داسې د افتخار ډکې او ځلېدونکې پېښې شته، چه زموږ اولس پرې افتخار او وياړنه کولی شي.
په ۱۹۷٦ م کال کې د جون د میاشتې شپږمه ورځ په یوروپ کې اوسېدونکې لر او بر ګڼ شمېر پښتانه او بلوچ په دې بریالي شول، چه وروسته له ډېرو جرګو مرکو او خبرو اترو د لومړي ځل د پاره (په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنې) بنسټ چه د المان د اتحادي جمهوریت د فرانکفورت په ښار کې کېښودل شو، یوه مهمه تاریخي پېښه ګڼل کېږي.
په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه که د یوې خوا دا وظیفه لري، چه د سیمینارونو، کنفرانسونو، غونډو او ميلمستیاګانو د جوړولو او معلوماتي موادو د خپرولو د لارې د پښتونستان او بلوچستان د خلکو د آزادۍ غوښتنې غږ د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي او د ټولو دیموکراتیکو او مترقي هیوادونو، بین المللي تولنو، مترقي دیموکراتیکو تولنو او وګړو ترسته ملاتړ وګټي او د ملي آزادۍ غوښتونکې مبارزې لپاره د تیارۍ هڅه هم وکړي.
موږ د لر او بر ټول افغان اولس ته هم (په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د تولنې) د بنسټ ایښودلو زېری او په دغه تولنه کې د غړیتوب او فعال کار بلنه ورکوو.

د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه

## د لوستونکو لپاره د پیام ور

گران لوستونکي به پدې خبر وي چه ( سپرغۍ ) په خارج د افغاني محصلانو د عمومي اتحادیې خپرونکي ارگان د ۱۹۷۲ م کال د جولای د میاشتې څخه را پدې خوا پخپلو خپرونو پیل کړی دی .

سپرغۍ په خارج کې د افغاني محصلانو د جنبش او د عمومي بین‌المللي او ملي مسایلو په باب خپرونې کوي . دغه ارگان د ټولو مترقي متفکرینو، وطنپالونکو او ملي مترقي دیموکراتو افغاني پوهیدونکو د نظریاتو او مبارزې ښکارندوی دی .

د افغاني پوهیدونکو مبارزې په خارج کې د افغان ولس د ضد فیوډالي او ضد امپریالیستي مبارزو یوه برخه جوړوي .

سربیره پردې چه افغاني پوهیدونکي په خارج کې د کپیټالیستي ټولنې تر باوره او غیرانساني شرایطو لاندې ژوند کوي بیا هم پدې بریالي شول چه خپلو مبارزو ته علمي او سازماني بڼه ورکړي .

موږ پدې یقین لرو چه د اقتصادي او تخنیکي مشکلاتو له کبله به په ( سپرغۍ ) کې د نیوکې وړ نیمګړتیاوې موجودې وي او بل داچه خپرونې د سیاسي شعور په روزنه کې ښه برخه ترسره نه شي. لدې کبله د ( سپرغۍ ) ټولو لوستونکو څخه هیله کیږي چه له موږ څخه خپلې مادي او معنوي مرستې دریغ نه کړي او موږ ته خپل انتقادونه او نظریات راولیږي .

( د سپرغۍ د سرپاڼې جرگه‌گۍ لخوا )